# پوتین یو ځل بیا له خلافته و وېرېد



(ژباړه)

د ( ۲۰۱۷م) کال د جون پر ۱۲مه، د امریکا تفریحي تلویزوني شبکې «Showtime» څلورمه مستنده برخه ”د پوتین مرکې“ تر نامه لاندې خپره کړه، چې دا برخه په لوېدیځ کې د امریکایي نامتو فلم جوړونکي اولیور سټون «Oliver Stone» له لوري جوړه شوې وه. په همغه وخت کې نوموړې مرکه د چینل ون «Channel One» روسي دولتي تلویزوني شبکې له لارې ننداریې ته وړاندې شوه. د ( ۲۰۱۷م) کال د جون پر ۱۵مه، د روسي رسنیو تر څنګ د کریملین بهرنیو رسنیزو شبکو لکه «نن روسیې» او «سپوټنیک» له لارې خبر خپور شو، چې پوتین اولیور سټون ته ویلي وو، چې مسکو به هیڅکله هم روسیې ته اجازه ورنه کړي، چې خلافت شي.

که څه هم، په رسمي توګه نوموړې فلم د واقعي او بې طرفه استناد ادعا کوي، خو ترديې دمه د فلم کره والی او پوتین ته د لیکوال بشپړه وفاداري هر چا ته څرګنده شوه. د فلم په درېیمه برخه کې سټون له پوتین څخه د سوریې په پوځي عملیاتو کې د روسي هوایي ځواک د برخې اخیستنې لاملونو په اړه و پوښتل. پوتین په ځواب کې وویل: «دوی به له سهیلي اروپا څخه تر مرکزي آسیا پورې خلافت رامنځته کړي، چې دا تر ټولو ستر خطر دی». دې خبرې د خبریال ږغ د صحنې تر شا پر پرده منعکس کړ. دوی د نړۍ د نقشې پر مخ د تورې پراخې سیمې په څېر را څرګندېږي. د خلافت لمن له استثنا پرته ټولو مسلمانو هیوادونو ته غځېږي او تر پیرینین، اپینین او د بالکان تر ټاپووزمو پورې رسیږي. د دې تر څنګ، د خلافت شمالي سرحدونه یې په فلم کې داسې انځور کړل چې د مرکزي اسیا په سیمه کې په مستقیم ډول له روسیې سره څېرمه پوله لري. په پایله کې، د مرکې نیمه برخه په سوریه کې د روسیې خونړیو عملیاتو ته ځانګړې شوې وه او پوتین په درېیمه برخه کې خپلې خبرې په دغو الفاظو پای ته ورسولې: « تاسو پوهیږئ د نړۍ هیڅ دین د شر سرچینه نه شي کېدای. په اسلام کې ډېرې زیاتې ډلې او تقسیمات شته، چې دوې اصلي ډلې یې شیعه او سني دي. موږ وینو چې تر اوسه د دوی دواړو تر منځ ډېر ژور توپیرونه شتون لري. سره له دې، زه پر دې باور لرم چې یوه ورځ به دوی پر دغو توپیرونو لاس بري شي یا به مسکو د خلافت یوه برخه شي». اولیور سټون د ټوکې په ډول وویل: «ښه، موږ به دې ته اجازه ور نه کړو. په هر حال، یوه شه چې واشنګټن ښایي د خلافت برخه نه شي.» پوتین په احمقانه ډول و خندل.

په ښکاره ډول، د خلافت په اړه د دوی  څرګندوني، د خلافت نقشې د پراخوالي اړوند مسلسله ویډیو، چې د عصري اروپا سیمه هم پکې ګډون لري ( هغه خاوره چې یو وخت تر اسلامي حاکمیت لاندې وه) او د سټون بې خندا ټوکه، دا ټول هغه څه دې چې د کریملین په پلوۍ یو بشپړ څرګند تبلیغاتي پیغام وړاندې کوي، چې پوتین له راتلونکي خلافت څخه د نړۍ ساتنه کوي.

له یو طرفه د( ۲۰۱۸م) کال د ټاکنیزو نوماندۍ پر مهال، پوتین روسي وګړي له خلافته وېرول، ځان یې د اړتیا له مخې د ۶ نورو کلونو لپاره پر چوکۍ د پاتې کېدو په پلمه مستحق ګاڼه او د سوریې په جګړه کې یې د نوي قربانیانو له حقونو څخه د دفاع لپاره ځان ته حق ورکاوه. د ده دا چل بریالی شو، د بېلګې په توګه د روسي پیلوټانو څخه د یو پلار په سوریه کې ووژل شو، د هغه د زوی په مړینه کې یې داسې وینا وکړه: « دی په داسې حال کې مړ شو چې وسله په لاس د خپلې پلرنی خاورې څخه یې دفاع کول، ترڅو دغه تور میکروب موږ ته سرایت و نه کړي، له دې امله موږ نه غواړو چې بورقه په سر کړو او هر ځلور ساعته دعا وکړو. » له همدې امله روسان پوتین ته له خلافت څخه د نجات ورکوونکي او ژغورنکي په سترګه ګوري.

له بله طرفه په ځانګړي ډول نوموړی فلم په بهرنیو مرکزونو کې خپرېدو ته په پام کې نیول شوی و، چې فلم غربي مخاطبانو دواړو (سیاسي مخورو او عامو خلکو) ته یو مهم پیغام درلود. پوتین غواړي د اوسنی نړۍ له سترو قدرتونو څخه یو وي او د بهرنیانو له بندیزونو څخه لرې او خپلواک وي. پوتین په دې ډول اروپایانو ته وویل: «موږ ګډ دښمن لرو، له مخالفت څخه باید لاس واخلو.» سره له دې چې ټول فلم د پوتین او لیکوال دواړو له خوا مسلمانانو ته له کرکې څخه ډک پیغام درلود. پرته له شکه، له فلم څخه موخه په لوېدیځ کې د ازادۍ د ارزښتونو او بهیرونو راټیټول او مایوسه کول وو، چې د امریکا د انتخاباتو پر پایلو یې د ټرمپ په بریا کې او په اروپا کې د ملتپالو په ځواکمن کېدو کې رغنده رول درلود. له هغه چا څخه مننه چې پوتین یې په لوېدیځ کې زیات مشهوره کړ، په ځانګړې توګه له سټون څخه چې مخکې یو سخت لبرال کس، یو ځل بیا یې د شوروي مخالفینو سره همدردي ښکاره کړه او نن ورځ د پوتین د یو تبلیغاتي کس په څېر بدل شو. پوتین د یوې منظمې او څرګندې  مفکورې له مخې د سیالي امپرالیستي مشرې امریکا څخه د داسې احترام وړ موقف په لټه کې دی. دغه موقف په ښکاره ډول د Oscar جایزې ګټونکي فلمي ډایریکټر لپاره په زړه پورې دی. په رښتیني توګه، پوتین د هغو کسانو په څېر یو کس دی، چې الله یې یادونه کړې:

**وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِن لَّا يَشْعُرُونَ**
(البقره:۱۱-۱۲)

*کله چې هغوی ته و ویل شول، پر ځمکه فساد مه کوئ، نو هغوی و ویل: یقینا موږ خو اصلاح را وستونکي یو. پام کوئ! په حقیقت کې همدوی فساد کوونکي دي، خو شعور نه لري.*

د یادونې وړ ده چې د پوتین دا لومړی ځل نه دی، بلکې مخکې یې هم د خلافت یادونه کړې. په ( ۲۰۰۴م) کال کې، د هغه د واکمنی پر مهال، کله چې ده غوښتل په هیواد کې د خپلې واکمنی ځواکمنتیا ثابته کړي او سیاسي زور وښیې، نو له یوې روسي تلویزوني شبکې سره یې په مرکه کې وویل: « په هر صورت، د دوی  موخې په نړیواله سطحه ډېرې مهمې دي، د مثال په توګه د خلافت په رامنځته کېدو کې. زموږ لپاره دا واقعي، منفي او نه منونکي پایلې دي. په اصل کې د دوی دا موخه، زموږ لپاره  د هیواد په سهیل کې د  لویو سیمو د لاسه ورکولو او د ټول دولت د احتمالي بې نظمۍ په مفهوم ده.»

ښه، پوتینه، مسلمانان به په حقیقت کې خلافت بیا را ژوندی کړي؛ خپل هغه رښتینی دولت به را ژوندی کړي چې روسیه، امریکا یا بل هغه څوک به پرېنږدي چې د مېرمنو، زړو خلکو او ماشومانو پر سرونو

مو بمونه پرته له جزايي مسولیته را اورول. وخت به راشي، د هغه خطر په اړه ستاسو ناوړه دروغ به څرګند شي، چې د نړۍ د خالق د دین له لوري تاسو ورسره مخ کیږئ. روم او سپینه ماڼۍ به زموږ وي او ته، پوتینه، د دغه ژوند د تاریخ په تورو تیارو کې به تباه شې. ستا په شان قاتلان به هم ستا له برخلیک سره مخ وي او د اخرت په ژوند کې هر مجرم ته سختې سزاګانې ساتل شوې.

**لیکوال: ایلډر خامزین**
**د حزب التحریز د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**
**د الرایه جریدې د ۱۳۸ مې ګڼې لپاره**
**۱۴۳۸، د شوال ۱۸ مه**
**۲۰۱۷، د جولای ۱۲**